هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل (۲۸۸) ماه جمادی الاول ۱۴٤٦ هـ ق مطابق عقرب ۱٤۰۳ هـ ش

سرلیکنه

## کلنۍ آزموینې د زده کوونکو، ښوونکو او والدینو مسئولیتونه

آزموینه د زده کړې جز دی او د دې لپاره اخیستل کېږي؛ څو ښوونکي وپوهېږي چې زده کوونکو تر کومې کچې زده کړې کړې دي، آزموینه له یوه لوري د لوړې او ټیټې سویې د زده کوونکو ترمنځ د توپیر ښه تګلاره ده او له بل لوري همدا آزموینه ده چې زده کوونکي اړ باسي تر څو خپل درسونه په ښه توګه ولولي او راتلونکې آزموینې ته پوره چمتوالی ونیسي. دا چې سږنی ښوونیز کال مخ په خلاصېدو دی او کلنۍ آزموینې ته د ګوتو په شمېر ورځې پاتې دي ګرانو زده کوونکو ته ښايي چې د تېر څلورنیم میاشتنۍ آزموینې پایلو ته ...

۲مخ

## افتتاح تعمیر یک باب مکتب و آغاز کار ترمیم مدارس و مکاتب در ولایت فاریاب به هزینه بیش از ۲۸ میلیون افغانی

کار ترمیم و بازسازی ۱۹ باب مدرسه و مکتب در مرکز و ولسوالی های ولایت فاریاب به هزینه ۱۳.۵ میلیون افغانی از سوی محترم الحاج مولوی محمد طاهر جواد رئیس معارف آن ولایت طی محفلی با شکوهی که شماری زیادی از علماء کرام، بزرگان قوم...

ص۲

## پکتیکا کې یو باب دیني مدرسه پرانیستل شوه

د پکتیکا ولایت د یحیی خېلو ولسوالۍ اړوند اسعد آباد پارک کلي کې یو باب دیني مدرسه تر جوړولو وروسته پرانیستل شوه.

د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي چې د یادې مدرسې ودانۍ چې ۳ درسي ټولګي او اړین ملحقات لري په دوه جریبه ځمکه کې د څه باندې ۳ مېلیونه افغانیو په لګښت په پاخه اواساسي ډول جوړه شوې.

د چارواکو په وینا د یادې مدرسې د ودانۍ جوړېدو لپاره ځمکه او مالي لګښت د دې ولسوالۍ د یو تن علمي شخصیت محترم خلیفه صاحب اسدالله لخوا ورکړل شوی. مسئولین زیاتوي چې د دې ودانۍ په جوړېدو سره د سیمې یو زیات شمېر اوسېدونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال را منځ ته شوی...

۲مخ



## په فاریاب ولایت کې د څه باندې ۱۵ مېلیونه افغانیو په لګښت د یو باب ښوونځي ودانۍ د جوړېدو چارې پیل شوې

د فاریاب ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي محمد طاهر جواد د یاد ولایت ګرزیوان ولسوالۍ اړوند په خواجه غار کلي کې، د یو باب لومړني ښوونځي د ودانۍ بنسټ ډبره ایښودلو پر مهال وویل: د دغه ښوونځي د جوړېدو لګښت ۱۵،۳ مېلیونه افغانۍ اټکل شوی، چې تاکل شوې ده، چارې یې په راتلونکو...

۲مخ

## د ښوونکو د بستونو د آزموینې په تړاو کاري ناسته وشوه

د پوهنې وزارت او د آزموینو ملي اداري تر منځ د لاسلیک شوې همکارۍ د هوکړې له مخې، په پام کې ده د ښوونکو د بستونو د آزموینې لپاره، د یاد وزارت په همکارۍ د ملي آزموینو د ادارې له خوا آزموینه واخیستل شي.

په هغه غونډه کې چې په همدې موخه د ښوونکو د ۸ زره بستونو رقابتي آزموینې لپاره د سوالونو چمتو کولو په موخه، د نصاب او مسلکي پراختیا د لوی ریاست استازو او اړوندو ادارو د علمي غړو په ګډون جوړه شوې وه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا رئیس محترم مولوي محمد ابراهیم عمري او د دې اداري نورو مسئولینو د موضوع په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

همدارنګه د غونډې په بهیر کې د اړوندو څانګو علمي غړو ته دنده وسپارل شوه، چې پوښتنې د هرې رشتې اړوند په مسلکي او علمي بڼه ترتیب او له قانوني لارو چارو وروسته یې اړوندو ادارو ته وسپاري.

## بازسازی ۱۲ باب مکتب به مصرف ۲۹ میلیون افغانی در نورستان

در مراسم آغاز کار دیوارهای احاطوی و ترمیمات ۱۲ باب مکتب در مرکز و ولسوالی های مختلف ولایت نورستان، محترم الحاج قاری ذین العابدین عابد والی آن ولایت، محترم الحاج مولوی تاج محمد مطمئن رئیس ومسئولین معارف، مسئولان شماری ادارات ولایتی، علماء کرام و محاسن سفیدان ولایت نورستان حاضر بودند.

رئیس معارف ولایت یاد شده در سخنانی ضمن خوش آمدید مهمانان، گزارش مختصر دستاورد های آن ریاست را به حضور رهبری مقام ولایت ارائه نمود.

سپس والی ولایت نیز پیرامون اهمیت مراکز تعلیمی در پروسه آموزش صحبت نموده، از همکاری های مستمر رهبری ولایت یاد شده در حمایت از تطبیق برنامه های وزارت معارف اطمینان داد.

در ادامه شماری علماء کرام و نمایندگان مردم نیز از اهتمام و توجه رهبری وزارت معارف در امر بسط و توسعه مراکز تعلیمی در آن ولایت به نیکویی یاد آور شده، از همکاری شان با ریاست معارف وعده دادند.

کفتنیست که مصارف مالی پروژه های ذکر شده را یکی از نهاد های همکار با معارف تمویل می‌نماید.

## افتتاح ساختمان دو باب مکتب در ولایت دایکندی



ساختمان مکتب تاق عروس و شهرک مهاجرین در ولایت دایکندی طی مراسم به اشتراک شماری از علماء کرام، بزرگان و باشنده گان محل از سوی رئیس معارف افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

محترم مولوی رحمت الله قندیلی رئیس معارف ولایت دایکندی، در مراسم افتتاح مکاتب یاد شده گفت: ساختمان مکتب تاق عروس ۳۵۰ هزار دالر و ساختمان مکتب شهرک مهاجرین ۳۱۳ هزار دالر هزینه برداشته و مصارف آن از سوی دو نهاد همکار با معارف پرداخته شده است.

وی افزود که با ساخت تعمیرهای جدید این دو مکتب زمینه فراگیری آموزش در فضای مصون برای صدها شاگرد این محل فراهم شده است.

رئیس معارف ولایت یاد شده از مسئولین و شاگردان مکاتب خواست تا در قسمت نگهداری تعمیرات مکاتب خویش کوشا باشند.

در مقابل نمایندگان مردم نیز از اعمار تعمیر مکاتب در محلات شان ابراز خرسندی نمودند.

## هېواد ته له راستانه شویو زده کونکو څخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه

د خوست ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو په وینا، د پوهنې وزارت د پالیسۍ له مخې، هر هغه کډوال ماشومان چې بېرته هېواد ته راستنېږي، د سویې د تثبیت لپاره به یې آزموینه واخیستل شي چې په ترځ کې به دوی د خپلې تعلیمي کچې سره سم د ښوونځیو په بېلابېلو ټولګیو کې شامل شي.

په همدې موخه له هغو ۸۰ تنو هېوادوالو څخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه چې تازه له ګاونډیو هېوادونو څخه خوست ولایت ته راستانه شوي وو.

په پلان کې ده چې د یاد ولایت د پوهنې ریاست د آزموینو کمېټې له ارزونې وروسته ...

۲مخ



## تحسین از برنده گان برتر امتحان علوم دینی در وزارت معارف

امتحان علوم دینی که چندی پیش از سوی ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف از حدود سه هزار کارمند مرکزی این وزارت اخذ گردیده بود پس از ارزیابی نتایج آن در مراسمی از سوی مسئولین آن ریاست همگانی شد.

مراسم که با قرائت چند آیت از کلام الله مجید آغاز شد، در مراسم ضمن حضور محترم مولوی جمعه خان سروری رئیس دعوت و ارشاد این وزارت، مسئولین و کارمندان ریاست دعوت و ارشاد و سایر ادارات مرکزی وزارت معارف نیز اشتراک داشتند.

رئیس دعوت و ارشاد وزارت معارف هدف راه اندازی این رقابت ها را، بلند بردن سطح آگاهی کارمندان...

ص۲

## در این شماره:


صفحه ۲ — بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس سفر

۳ مخ — میدان وردگ کې د ۱۰ مېلیونه افغانیو په لګښت د یو باب لومړني ښوونځي ودانیزې چارې بشپړې شوې

صفحه ۳ — گشایش یک باب مکتب در مربوطات ولایت پکتیا

٤ مخ — د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس د تخار ولایت له یو شمېر دیني مرکزونه څخه لیدنه وکړه

# د هرات ولایت یو شمېر ښوونځیو ښوونیز وضعیت د پوهنې وزارت د استخدام رئیس لخوا و ارزول شو

د پوهنې وزارت د استخدام رئیس محترم مولوي محمد صادق صدیقي، چې د خپل سفر د پلان او آجنډا له مخې د یو پلاوي سره هرات ولایت ته تللی وو، په داسې حال کې چې د پوهنې ریاست مسئولینو یې ملتیا کوله، د یاد ولایت له صلاح الدین سلجوقي، مولانا عبدالواسع جبلي، مولانا عبدالرحمن جامي او د انقلاب اسلامي لېسو څخه لیدنه وکړه.

په دې کتنه کې نوموړي د ښوونځیو له مدیرانو او ښوونکو سره وکتل او د یاد ولایت د ښوونیز وضعیت په ځانګړي ډول د ښار ښوونیزو مرکزونو د کیفیت لاښه والي په موخه یې مسئولینو ته لازمي سپارښتنې وکړې.

همدارنګه د پوهنې وزارت د استخدام رئیس د یادو ښوونځیو د تعلیمي وضعیت د ارزونې په ترڅ کې د ښوونکو او کارکوونکو د استخدام په اړه لازمې لارښوونې وکړې او د مسئولینو ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل.

ورپسې د یادو لېسو مسئولینو د استخدام رئیس ته ښه راغلاست ووایه او ژمنه یې وکړه، چې د هېواد بچیان به په اسلامي او ملي روحیه روزي.

دا په داسې حال کې ده، چې د پوهنې وزارت د استخدام رئیس محترم مولوي محمد صادق صدیقي تر دې وړاندې د یاد ولایت د ګذره، زنده جان او پښتون زرغون ولسوالیو له یو شمېر ښوونیزو مرکزونو څخه هم لیدنه کړې وه.

## بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس سفر

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم مولوي جمعه خان سروري بدخشان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي نصرت الله فیضاني، د یو شمېر کلیدي ادارو مسئولینو او کارکوونکو سره وکتل.

په پیل کې د یاد ولایت پوهنې رئیس د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د دغه ریاست د دندو په اړه یې لنډ راپور د دعوت او ارشاد پلاوي ته وړاندې کړ.

په ورته مهال د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس بدخشان ولایت ته د خپل سفر د موخو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل، دیني زده کړې د ټولنې په هر اړخیز پرمختګ او اصلاح کې مهم او کلیدي رول لري.

نوموړي څرګنده کړه: دعوت او ارشاد د اسلام د سپېڅلي دین یو له بنسټیزو دندو څخه دی، چې د همدې لپاره پیغمبران «علیهم السلام» رالېږل شوي دي.

د دعوت او ارشاد رئیس د یاد ولایت د پوهنې له مسئولینو وغوښتل، چې د اسلام د ستر لارښود حضرت محمد«صلی الله علیه وسلم» د سنتو پلي کولو ته جدي پاملرنه وکړي او له هغو سره سم خپل صورت او سیرت برابر کړي.

نوموړي همدا راز لارښوونه وکړه، چې د یادې ادارې استازي دې د ولسوالیو ټولو ښوونځیو او پوهنې آمریتونو ته د مبلغینو په توګه ور وپېژندل شي.

په پای کې د بدخشان د پوهنې ریاست مسئولینو د دعوت او ارشاد پلاوي ته د ټولو لارښوونو او فرمانونو د پلي کولو ډاډ ور کړ.

## د بدخشان ولایت د کشم ولسوالۍ پوهنې آمریت نوې ودانۍ ورغول شوه

د بدخشان ولایت د کشم ولسوالۍ د چارواکو، ښوونکو، د ښوونځیو منسوبینو او د سیمې اوسېدونکو په مالي مرسته، د یادې ولسوالۍ د پوهنې آمریت ودانۍ ورغول شوه او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د دې ولسوالۍ پوهنې مسئولینو او د سیمه ییزو ادارو استازو په کې ګډون درلود پرانیستل شوه.

د یاد ولایت د پوهنې مسئولینو د معلوماتو له مخې د کشم ولسوالۍ د پوهنې آمریت نوې ودانۍ، د درسي او اداري خونو په لرلو سره د ۷ مېلیونه افغانیو په لګښت سره، په دوو پوړونو کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې ده.

د پوهنې وزارت رهبري د کشم ولسوالۍ له اوسېدونکو مننه کوي، چې د یادې ولسوالۍ د پوهنې آمریت ودانۍ یې په پاخه او اساسي ډول رغولې ده.

### کلنۍ آزموینې او د زده کوونکو ...

په کتو راتلونکو آزموینو ته پوره چمتوالۍ ونیسي، زده کوونکي باید تر هر څه د مخه په درسونو بیا کتنه وکړي او کوم موضوعات یا مضمونونه چې ورسره د زده کړې په برخه کې ستونزه لري له ښاغلو استاذانو څخه مرسته وغواړي. لکه څنګه مو چې یادونه وکړه د څلورنیم میاشتنۍ آزموینه زده کوونکو ته ښه فرصت دی چې د خپلې بریا او ناکامۍ ټکي پیدا کړي او د هغه د حل په برخه کې له خپلې کورنۍ او استاذانو څخه مرسته وغواړي، هغه مثبت ټکي چې دوی درلودل لا تقویه او خپل منفي ټکي چې د دوی په بریا کې خنډ وو له مخې لېرې او تېرې ترخې تجربې په فرصت بدلې کړي تر څو ښې پایلې تر لاسه کړي، تر آزموینې وړاندې د ښوونکي پوښتنو، اشارو او په ځینو مطلبو تأکید ته غور وکړئ، ډېر اتکل کېدلی شي چې ښوونکی په همدې پوښتنو تاسې د آزموینې څرنګوالي ته متوجې کړي. قدرمنو ښوونکو ته هم تر څلور نیم میاشتنیو آزموینو وروسته د خپلو زده کوونکو د استعداد کچه معلومه شوې او دوی ته ښایي هغه زده کوونکي چې په تېرو آزموینو کې ټیټې نمرې تر لاسه کړي له هغوی سره د درسونو په زده کړه کې مرسته وکړي او هغه زده کوونکي چې په تېر کې یې ښې نمرې تر لاسه کړي لا وهڅوي او د هغوی د ستونزو په هوارۍ کې یې لاسنیوی وکړي.

والدین چې تر ښوونځي د مخه هم د خپلو اولادونو په سالمه روزنه کې مسئولیت لري باید هره ورځ او په ځانګړې توګه کله چې د ښوونځي آزموینې را نږدې کېږي د خپلو اولادونو سره د درسونو په زده کړه کې پوره مرسته او همکاري وکړي.

د ماشومانو په روزنه کې چې د هېواد راتلونکی په دوی پورې اړه لري کورنۍ او ښوونکي مشترک او دروند مسئولیت په غاړه لري، ددې لپاره چې وکولای شو راتلونکی نسل په اسلامي روحیه وروزو نو ټول باید دغه مسئولیت په ښه توګه ادا کړو تر څو په راتلونکي کې د علم او پوهې په ګانه سمبال نسل ټولنې ته وړاندې کړو او هېواد مو د پرمختګ او ترقۍ تر لوړو څوکو ورسوو.

### افتتاح تعمیر یک باب مکتب ...

و موسفیدان حاضر بودند آغاز شد.

رئیس معارف فاریاب حین گشایش کار ترمیم مدارس و مکاتب یاد شده گفت: تعمیرهای این مدارس و مکاتب در سال های گذشته به دلایل مختلف قسماً تخریب شده بودند و شاگردان آن در فضای نامناسب مصروف فراگیری آموزش بودند، که به گفته وی با تکمیل شدن کار بازسازی این مدارس و مکاتب فضای مصون آموزشی برای صدها تن از طالب العلمان و شاگردان مراکز آموزشی یاد شده فراهم میگردد.

وی همچنان افزود: ترمیم تعمیرهای مدارس و مکاتب یاد شده جمعاً ۱۳،۵ میلیون افغانی هزینه بر می دارد که از بودجه وزارت معارف پرداخت می گردد.

طی یک خبر دیگر ساختمان یک باب مکتب ابتدائیه سیوک کریم منطقه گلیم باف های ولسوالی پشتون کوت آن ولایت پس از اتمام کار ساختمانی آن از سوی رئیس معارف و شماری از باشنده گان محل طی مراسمی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

رئیس معارف گفت هزینه ساخت این مکتب ابتدائیه ۱۵ میلیون افغانی بوده و زمین آن قبلاً به گستره ۳ هزارو ۲۵۰ متر مربع به هدف احداث مکتب یاد شده ازسوی مردم محل به معارف این ولایت وقف شده بود.

در این حال شماری علماء کرام و نمایندگان مردم از توجه رهبری وزارت معارف در جهت ارائه خدمات تعلیمی به فرزندان شان اظهار خرسندی و قدردانی نمودند.

### تحسین از برنده گان برتر ...

از مسایل دینی و فقهی عنوان نموده و با بیان این که کامیابی ما در آموزش های دینی نهفته است، اظهار داشت که در زمینه ارتقای ظرفیت های علمی کارمندان از آموزه های دینی، کتابی در این مورد تحت کار است که با اتمام تألیف و چاپ آن به دسترس کارمندان قرار داده خواهد شد.

در پایان محفل به تعداد ۱۸ تن کارمندان که نمرات بلند را در امتحان یاد شده از آن خود نموده بودند، با اهدای تحایف مورد تشویق قرار گرفتند.

### پکتیکا کې یو باب ...

د سیمې اوسېدونکو هم د یادې مدرسې په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنیز نظام د لا پیاوړتیا لپاره یې د پوهنې ریاست چارواکو ته د لا زیاتو مرستو ډاډ ورکړ.

د پوهنې وزارت مشرتابه د پوهنې په برخه کې د خلکو د ملاتړ د هرکلي په ترڅ کې، د پکتیکا ولایت د یحیی خېلو ولسوالۍ د خلکو د دغه نېک احساس قدرداني کوي.

### په فاریاب ولایت کې د...

۶ میاشتو کې د یو مرستندویه اداري په مالي ملاتړ پای ته ورسېږي.

نوموړي زیاته کړه چې د یاد ښوونځي په جوړېدو سره به د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال را منځ ته شي.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو د دغه ښوونځي په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او دا یې د علم او پوهې د پراختیا او ځواکمنتیا په برخه کې ګټور ګام وباله او د پوهنې وزارت څخه یې د یاد ښوونځي د جوړېدو په پار د مننې تر څنګ د یاد وزارت له پروګرامونو خپل ملاتړ اعلان کړ.

### هېواد ته له راستانه شویو ...

به یاد زده کوونکي، د دغه ولایت د ښوونځیو له اووم څخه تر ۱۲ ټولګیو پورې د خپلو زده کړو د دوام په موخه جذب شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم له ګاونډیو هېوادونو څخه د سلګونو تنه راستانه شوو هېوادوالو د ماشومانو څخه د سویې تثبیت آزموینه اخیستل شوې او په بېلابېلو ښوونځیو کې د زده کړې د دوام په موخه شامل شوي دي او دا لړۍ دوام لري.

### د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس ...

په یاده کتنه کې نوموړي د استادانو د تدریس پر کیفیت د ټینګار ترڅنګ ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت مشرتابه په هېواد کې د تحصیلي بنسټونو پراختیا او پرمختګ ته جدي پاملرنه کوي او له مسئولینو یې وغوښتل چې د هېواد بچیانو د ښوونې او روزنې په برخه کې له پوره اخلاص او دقت څخه کار واخلي.

له بلې خوا د تخار د دارالعلومونو مسئولینو هم ورغلي پلاوي ته د ښه راغلاست پرمهال د پوهنې د بډاینې په برخه کې د پوهنې وزارت د رهبرۍ له پاملرنې مننه وکړه.

د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس ژمنه وکړه، چې د ټولو پوهنیزو مرکزونو د ستونزو په حل کې به همکاري کوي.

### په کاپیسا کې د خلکو په مالي...

د دوی په خبره د یادې مدرسې د جوړولو لپاره ځمکه هم د سیمې د اوسېدونکو لخوا وقف شوې وه. دوی زیاتوي چې د یادې مدرسې په جوړېدو سره به د سیمې یو زیات شمېر طالب العلمانو ته په یاده مدرسه کې د زده کړې زمینه برابره شي.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو هم د یادې مدرسې له جوړېدو خوښي څرګندده کړه او د پوهنې وزارت له ښوونیزو پروګرامونو څخه یې خپل ملاتړ څرګند کړ.

د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې هم د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې یو شمېر دیني مدرسې او ښوونځي د خلکو په مالي مرسته جوړ شوي دي چې د یادو ښوونیزو مرکزونو په جوړېدو سره په زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال رامنځ ته شوی.

د پوهنې وزارت مشرتابه د پوهنې په برخه کې د کاپیسا ولایت د خلکو له مرستو مننه کوي.

### د هېواد په ښوونځیوکې زده کوونکو ته...

کولو د څرنګوالي په اړه ګډو نوالو ته معلومات ورکړل.

دغه راز نوموړي زده کوونکو ته لارښوونه وکړه چې د خپلې سالمې روغتیا په موخه دې شخصي، ټولنیز او د ښوونځي چاپېریال پاک وساتي.

په ورته مهال د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست استازي د یاد کمپاین د پیل په مناسبت د پوهنې وزارت پیغام ولوست، چې په کې ویل شوي وو: یاد وزارت د هېواد د تعلیمي مرکزونو ټولو زده کونکو ته د البنډازول ټابلېټونو د وېشلو د پلي کولو له پروسې څخه په جدي ډول ملاتړ کوي.

په پای کې مسئولینو د یو شمېر مدارسو او ښوونځیو زده کوونکو ته د کولمو چینجیو د ټابلېټونو په وېشلو سره دغه لړۍ په رسمي ډول پیل شوه.

Newspaper
# Marif
Weekly

کتنپلاوی:
الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب» ،
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعیب «حقیقی»
عبدالصبور «غفرانی»
محمد ابراهیم «ملهم»
معراج «زمانی»
محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوری»

ډیزاینر: محمد قسیم «یعقوبی»
تیراژ: ۳۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 288 /2024

## افتتاح یک باب کتابخانه در یکی از مدارس ولایت لوگر



مسئولان در ریاست معارف ولایت لوگر از گشایش یک باب کتابخانه مجهز در دارالعلوم "مرکز المدارس" در شهر پل علم مرکز ولایت لوگر خبر می دهند.

به گفته مسئولین معارف لوگر کتابخانه یاد شده با ۲۰ هزار جلد کتاب با عناوین مختلف در بخش های دینی و معلوماتی مجهز بوده که برای تجهیز و آماده سازی وسایل ضروری آن حدود ۲ میلیون افغانی هزینه شده است که هدف از ایجاد آن، ارتقای سطح دانش علمی طالب العلمان دارالعلوم متذکره می باشد.

در این حال طالب العلمان دارالعلوم یاد شده از ایجاد کتابخانه اظهار خرسندی نموده و آن را برای بلند بردن سطحی آگاهی علمی طالب العلمان گام ارزشمند عنوان میکنند.

## د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس د تخار ولایت له یو شمېر دیني مرکزونه څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس محترم مولوي عبدالقدوس قدوسي د تخار ولایت د دارالعلومونو ارزونې په موخه د یو پلاوي په ملتیا د یاد ولایت د دارالعلومونو له مسئولینو او استاذانو سره وکتل...

۲مخ

## په کاپیسا کې د خلکو په مالي مرسته یوه دیني مدرسه جوړه شوه



د کاپیسا ولایت محمود راقي اوسېدونکو د دغه ولایت په مرکز کې د "جامعة الاسلامیه المنصوریه" په نوم د ۸ مېلیونه افغانیو په لګښت د یو باب دیني مدرسې ودانۍ تر جوړولو وروسته پرانیسته.

د کاپیسا ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا دیادې مدرسې نوې ودانۍ چې له نورو اړینو ملحقاتو سره ۱٤ درسي خونې لري، په پاخه او اساسي ډول سره جوړه شوې ده...

۲مخ

## برگزاری ورکشاپ میتودیک برای اعضای علمی ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی

ورکشاپ آماده گی و میتودیک برای ۸۳ تن از اعضای مسلکی علمی ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی وزارت معارف از سوی محترم مولوی محمد ابراهیم عمری رئیس تربیه معلم و انکشاف مسلکی افتتاح شد.

رئیس تربیه معلم وزارت معارف در مراسم گشایش ورکشاپ یاد شده در رابطه به اهمیت داشتن ظرفیت های کاری کارمندان به ویژه معلمان در جهت تدریس با کیفیت صحبت نموده شاملان ورکشاپ را متوجه مسئولیت های شان نمودند و از آن ها خواست تا از داشته های این ورکشاپ استفاده خوب نمایند.

موصوف یاد آور شد که قراراست این برنامه برای ۲۵ هزار تن آمرین، مدیران، سر معلمان، معلمان و شوراهای مکاتب مراکز تعلیمی مرکز و ولسوالی های ۲۲ ولایت کشور دایر شود که برای آن ها شیوه های علمی و میتودیک تدریس شاگردان دوره اصول صنفی آموزش داده خواهد شد.

اشتراک کننده‌گان نیز از راه اندازی ورکشاپ های میتودیک وعلمی که به هدف بلند بردن ظرفیت های مسلکی کارمندان دایر می گردد، استقبال کرده و از توجه رهبری وزارت معارف در این راستا قدردانی نمودند.

## تهداب گذاری یک محراب مسجد در یکی از مکاتب ولایت بلخ

مسئولین ریاست معارف ولایت بلخ کار ساخت یک محراب مسجد را در محوطه مکتب متوسطه رحمان بابا مربوط ولسوالی بلخ آن ولایت را با گذاشتن سنگ تهداب آن آغاز کردند.

در این مراسم علاوه از مسئولین معارف، مسئولان ادارات محلی، علماء کرام و محاسن سفیدان ولسوالی متذکره نیز حضور داشتند.

سخنرانان تأسیس مساجد و اماکن تعلیمی را در اصلاح و پیشرفت جامعه مهم و با ارزش دانسته و کمک به این مراکز را در زمره ءصدقات جاریه بیان نمودند.

به گفته مسئولین، برای ساخت این مسجد مردم محل یک میلیون افغانی مساعدت نموده اند.

برای مسجد یاد شده وضوءخانه، تشناب ها و سایر ضروریات نیز در نظر گرفته شده که در یک وقت گنجایش ۲۰۰ تن نماز گزار را دارا خواهد بود.

## د هېواد په ښوونځیوکې زده کوونکو ته د کولمو چینجیو د ټابلېټونو وېش کمپاین پیل شو




د هېواد په مدارسو او ښوونځیو کې زده کوونکو ته د البنډازول ( د کولمو چینجیو د له منځه وړلو) ټابلیټونو د وېش ملي کمپاین پیل شو.

په یادو مراسمو کې د کابل ښار پوهنې رئیس، د پوهنې وزارت د یو شمېر مرکزي ادارو مسئولینو، کارکوونکو په ځانګړي ډول د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست چارواکو، د عامې روغتیا وزارت سربېره د مرستندویه بنسټونو استازو او یو شمېر علماءکرامو برخه اخیستې وه.

غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د کابل ښار پوهنې رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني مېلمنو ته د ښه راغلاست ترځنګ، د یاد ملي کمپاین د پیل او عملي...

۲مخ

## د کابل ولایت د یو شمېر ښوونځیو د والیبال لوبډلو د سیالیو پایلې اعلان شوې

څه موده وړاندې د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ د ۱۲ لېسو د سپورټي لوبډلو ترمنځ د والیبال خزاني ټورنمنټ په لاره اچول شوی و چې په ترڅ کې یې د خواجه مسافر لېسې لوبډلې لومړی مقام او دوده مست په نوم لوبډلو په ترتیب سره دویم او دریم مقامونه خپل کړل.




د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست د بدني روزنې مسئولینو سالمې لوبې د ځوانانو د روغتیا لپاره ګټورې وبللې او زده کوونکي یې سپورت ته و هڅول.

د پایلو د اعلان په پای کې د دغه وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست د بدني روزنې مسئولینو له خوا غوره لوبډلې د ډالیو په ورکولو سره وستایل شوې.

## کابل کې د یو باب ښوونځي سره د یو تن علم پروره هېوادوال مرسته



د کابل ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالحق حقاني د میربچه کوټ ولسوالۍ له ښوونځیو څخه د لیدنې پر مهال وویل: د هېواد یو تن علم پروره شخصیت یوه اندازه توکي لکه؛ ۱۲۰ پایې څوکۍ، مارکر قلمونه او تختې د میربچه کوټ ولسوالۍ د شیخان بقا بیک منځني ښوونځي لپاره وپېرلې او هم یې د یاد ښوونځي د احاطوي دېوال جوړولو چارې په خپله غاړه واخیستې، چې ټولیز لګښت یې ۵۰۰ زره افغانۍ اټکل شوی دی.

د پوهنې وزارت مشرتابه د دغو مرستو له امله له خپلو هېوادوالو څخه مننه او قدرداني کوي.

**زده کړه هغه قوي وسله ده، چې کولای شو نړۍ ته پرې بدلون ورکړو.**